اجمل شینواری

۲۰۰۹/۰۳/۰۲

بسم الله الرحمن الرحيم

# ولسمشرکرزيِ سیاسی ځان وژونکی بریدوکړ

د کرزيِ صاحب فرمان دراتلونکو ټول ټاکنو په اړه د افغانستان داساسی قانون ٦١ مادې ته د درناويِ کولو معنا لريِ که د اقتدار اوږد والي ته ارزښت ورکولو!!!؟؟؟۰

دا هغهٔ پوښتنی دي چی هر په هیواد مین افغان وګړيِ ته دلمر په څير روښانه دي، پدي ښه پوهيږيِ چی بیا ددغه مظلوم ولس د برخلیک په اړه دځان دبقا لپاره داوسنیو واکدارنو له پلوهٔ سوداګريِ بینا شویده، دا څرګنده نده چی ددغيِ لوبيِ اصلی ګټونکيِ به څوک وي ولس او که یو څو سیاسی سودا ګر؟

ولس پنځه کاله مخکی همدغه بی کفایته کرزيِ صاحب ته په ډیرو بدو سیاسی، ټولنیزو، اقتصادی او فرهنګی حالتو کی خپليِ رائی په دي بنسټ ورکړيِ ترڅو د واقعی ولسواکيِ پروسی پلو ته د تګ سریزه پیل شي، دا چی ولس نورهٔ څه تمه درلوده هغه به پر ځايِ بريږدو۰ ولس خپل مسوولیت په داسی تاریخی پړاوکی چی ورسره مخ شويوه په ښه ډول ادعا کړيِ دي، دا چی اوسنیو واکدارنو په مقابل کی څه ورکړيِ دي دا قضاوت به پريږدو تاریخ ته۰ افغان مجاهد ولس کرزيِ صاحب ته دا رائی ددي لپاره ندي ورکړيِ چی ګوني دا څوکی میراثی ستا شوه، بلکی افغان مجاهد ولس دا دولسواکيِ سریزه ګڼله۰

د افغانستان دمعاصر تاریخ په اوږدو کی دا لمړيِ ځل ندي چی زمونږ دسیاست د ډګر مکاران او مداریان داسی دملی او ولسی ګټو ضدلوبی کويِ، په ډیر تاسف سره چی دداسی بی مسوولیته چمونو تاوان او جبران دغه مظلوم ولس ته تل ډیر ګران تمام شویدي۰

پوښتنه دا ده چی ایا دغه فرمان واقعا" عمليِ بڼه اخستی شي او که یو سیاسی ځان وژونکيِ برید دي؟

زما په اندکه چیرته کرزيِ صاحب رښتیا اساسی قانون ته ارزښت قایل وايِ او ملی ګټی ئی دپام وړ وايِ، لازمه وه چی دغه فرمان ئی حداقل شپږ میاشتی مخکی له ټوټاکنوڅخه ورکړيِ وايِ تر څو بهرنيِ ټولنيِ، افغان ولس او دجمهوريِ ریاست نوم اندو هر چاه په خپله برخی کی چمتوالیِ نیولي وايِ۰ که اوس چیرته کرزيِ صاحب دا دلیل وړانديِ کويِ چی پر ده بانديِ انتقادونه زيات وه چی ولی ټاکنيِ وه ځنډيدی هغه انتقادنه د ټاکنو په ځنډيد نه بلکيِ هغه انتقادات د کرزيِ صاحب داقتدار اوږدواليِ وه۰

دوهمه خبره دا ده چی که کرزيِ صاحب رښتیا د ولس غوښتنو ته درناوي کوي، ولس هر څه رښه او سپین غواړيِ خو په تاسف سره چی کرزيِ صاحب په دغه اووه کلونو کی لدغي ازموينيِ څخه ناکام راتويِ دي۰ د کرزيِ صاحب لپاره صرف د هغهٔ د اقتصاديِ مافیائی ټیم، د مخدره توکو د مافیاټیم او دسیاسی سبوتاژونو ټیم ګټی د بل هر څه څخه دپام او غور وړ دي۰ خو پديِ هم لازمه ده چی پوه وي چی ددغی انتحاری برید لمړنيِ قربانیان به همدوي وي دا ځکه چی پدغه اووه کلونوکی دافغان باتوره ولس سره کرزيِ اودغو دریګونو ډلو ستريِ جفاګانيِ کړيدي او دغه مظلوم خو باتوره ولس نور دداسی بی مسوولیته او بی کفایته ځیرو زغم نلريِ، او نه دا هغه پخوانيِ وختونه دي چی څه یو کس او یا یووه ډله وائی هغه به منل کيږيِ، اوس ښه والي پديِ کی دي چی د افغان مجاهد ولس او نورو نړيوالو راتلونکيِ ښیګڼيِ او خطرونه سره شریک شویدي۰

دنړيِ ټول ولسونه ویښ دي او هر څه ځاري چی څوک څه کويِ افغان ولس هم ددغيِ نړيِ یو برخه جوړه وي خو دغه مظلوم ولس چی کوم زغم ددغو سیاسی سوداګرو مقابل ګاللی دي هغي د لویو ملی ګټو په پام کی نیولو لپاره دي , نه د څو په ګوتو شمار واکدارنوپخاطر. که چیرته دغه مجاهد ولس پديِ پوه شيِ چی بیا هم پدغه ۲۱ پیړيِ کی د دويِ ملی ګټی د څو تنو د شخصی ګټو قربانيِ کيږيِ نو بیا هغه څه کويِ چی زمونږ د هیواد تاریخ ورباندیِ ګوا دي۰ په ډیريِ


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

خواشيني سره چی ددغه ځان وژنکي سياسی برید لمړنی قربانیان معلوم دي بیا هم ټوله لوی قربانی ولس ته ورپه غاړه ده لکه څنګه چی دغه تیر اووه کاله افغان ولس د لویو ملی ګټو دساتلو او درناوی لپاره رنګا رنګ ستونزی او ناخوالي ګاللی دي٠

اوس زه پدي باوريم چی دولس دصبر کاسه مخ په ډکیدو ده دا ځکه چی دټولو هیوادوالو تمه راتلونکو ټوټاکنو ته وه، دا هیله اوس هم لري چی ۲۰۰۹ میلادي کال په ټولټاکنو کی به ځانونو ته په ښه فکر سم برخلیک د رائي ودپاڼو په بنسټ ټاکي ، که دا هیلي چیرته د کرزي صاحب دبی مسولیتی او په قدرت مینتوب له کبله سبوتاژ شي نو افغان ولس ته نه جبران کیدونکی پائیلی لري پدي چی افغان ولس ته ورستی د زغم ټکي همدا دي٠

بل اړخته نړیواله ټولنه ده چی هغوي هم پدي تمه دي چی په افغانستان کی په راتلونکو ټولټاکنوکی یووه مسوولیت منونکي اداره رامنځ ته شي تر څو هغوي خپل اوږد مهاله ستراتیژیکی دریځونه ورسره شریک کړي، ځکه چی په دغه اوسني بی کفایته او بی ظرفیته اداره هیڅ څوک اعتبار نشی کولاي چی سحر یو څه وائی او ماښام بل څه، راځی چی دغه خبره صادقانه وکړو چی دا مونږ او تاسی خپله افغانان دي ته چمتو یو چی د کرزي صاحب دحکومت سره د یو من جوارو سودا وکړو ؟ زما په اند دټولو ځواب به نه وي٠

دلته یو ټکي د پام وړ دي چی که چیرته زمونږ د بی مسوولیتی له کبله کوم سیمه یز قوت نړیوالوته پیدا شي اودا ډاډ اوتظمین ورکړو چی لدغی سیمي څخه هغوي ته په راتلونکی کی نور کوم خطر نشته ، بیازما په اند نړیوال هم زمونږ د غمه ډیر ندي مړه ځکه چی مونږ خپله هر څه دسلیقو او شخصی ګټو قربان کړو، پدې کی هغوي مونږ سره څه مرسته کوائی شي٠

د کرزي صاحب ادارۀ نورۀ د افغانانو او نړیوالو داعتبار وړ نده او نه کوم پرمختګ لري چی یا افغانان او یا نړیوال ورته سترګي په لار شي٠

## دناورینه د وتلودحل لاري چاري :-

۱ د افغانستان ټول وګړي چی په هیواد کی دي او که هیواده بهر لازمه ده چی د خپلو خلکو دبرخلیک ټاکلو په اړه خپل ملی، اسلامی او افغانی مسوولیت درک کړي، ټول خپلمنځی اختلافات دملی لویو ګټو لپاره تر پښو لاندي کړي٠

۲ ټولی سیاسی، ټولنیزي ، فرهنګي ډلي او خپلواکۀ ځیري اړینه ده چی د یووي ملی طرحۀ لاندي سره راټول شي تر څو نړیوالو او افغانانوته ددغه ناورین نه د وتلو لاري چاري په شریکه په کوته کړي ٠

۳ ټولي ملی خپلواکه ځیري اړینه ده چی ددغه ناورین په هکله خپل سالم دریځ په ډیر روښانه ډول څرګند کړي، او دهغه احتمالی خطرونه ټولو هیوادوالو او نړیوالو ته ښکاره کړي٠

٤ په هیواد دننه او بهر اړینه ده دسالم فشار اچولو قوي ګروپونه جوړ شي تر څو دافغانستان په دولت او بهرني نړي زور واچوي چی راتلونکي ټولټاکني رنی او بی پري وي٠

٥ دټاکنو دخپلواک کمیسیون مشرتابه اړینه ده چی نوئي شي او دټاکنو ټول مرکزونه د ملګرو ملتونو او اروپائی ټولني د څارګرو تر څار لاندي ټاکني ترسره کړي٠

٦ که چیرته کرزي صاحب واقعا"غواړي چی دغه فرمان پلي شي او بی پري ټاکني وشي نو لازمه ده چی له خپلي دندي دغه اوس استفا وکړي او یا هم د نوم اندي څخه تیر شي٠

۷ که چیرته دافغانستان دولت دي ته چمتو نوي چی ټانکي رنی اوبی پري وشي نو بیا د جمهوري ریاست ټول نوم اندي لازمه ده په یو غږ د ټاکنو څخه داحتجاج پډول بایکاټ وکړي٠

د یو سوکاله او اباد افغانستان په هیله


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de